هاري　　　　　　　　　　　　　　　　　　　　　　　　　　　　　واشنګټن 15/08/2009

# يوازي اشرف غني ملي طرح او پلان لري

ځرنګه چي انتخاباتو ته فقط څو ورځي پاتي دی، نو ځکه انتخاباتي کمپين هم زور اخيستی دی. زه باور لرم چي پدې انتخاباتو کي دځوان نسل مسوليت او ونډه تر بل هر چا زياته ده. همدا راز، ددې انتخاباتو تاثير به هم د ځوانانو پر برخليک او ژوند باندې تر ټول زيات وي. ځرنګه چي پدې تېرو اتو کلونو کي، د حامدکرزي حکومت ټولو افغانانو ته په خاصه ټوګه او په تېره بيا ځوانانو ته هيڅ دخير کار ندی کړی، نو بنا افغان ځوان نسل مجبور او مکلف دی چي اوسنی فاسد او ملی ضد حکومت ختم او ښخ کړي. ځکه په بل صورت کي به د افغانستان دځوان نسل ټولي هيلي او غوښتنی د خاورو سره سمي سي. تر بل هر چا به ځوانان زيانمن او تاواني سی. ناهيلي، کرکه، او جنګونه به لا زيات سي، او پوره پنځه کاله نور به دحامد کرزي په مشری د ډاکوګانو، جنګسالارانو، او فيشني غلو لپاره د ملي شمتنيو د لوټ او تالان فرصت لا برابر سي. دا ځل به هغوی پوهېږي چي بيا چانس نلری، او دملک ټول ثروت، عزت، او نوم او نښان به ليلام کړي. د حامد کرزي حکومت په هر لحاظ ملی ضد، خاين، او غل دی. نو بنا، ددې ناشولتيه او شډل حکومت ختمول پکار دي. پدې اونی کي، د درې واړو رپوټونو لنډيز لولئ.

د ټايم مجله اګسټ پر ۱۳ مه ليکي محمد شفيق پوپل د حامد کرزي تر ټولو خطرناکه مخالف دی. خو هغه نه قومی مشر، نه جنګسالار، او نه هم د جمهوری رياست کانديد دی. ښاغلی پوپل ديرش کلن دی او د افغانستان د ځوانانو د يوې ډلي مشر دی. د ځوانانو پدې ډله کي قوم، مذهب، او سيمه مطرح مسايل ندی، بلکي د دوی اصلي هدف د ازادی، ديموکراسی، او قانون د حاکميت خورول دي. مګر د ښاغلي پوپل او د هغه د ۳۲۰۰۰ ځوانو ملګرو اني او سمدستي هدف د حامد کرزي ماتول او پسي اخيستل دي، ځکه هغوی باور لري چي د حامد کرزي حکومت د افغانانو لپاره ډېر خطرناکه دی. هغه وايي اوسنی حکومت د ځوانانو په ارزښتونو او هيلو باندي نه پوهېږي، او دا حالت بايد بدل سي. د کابل پوهنتون يوه محصله وايي، ( په پوهنتون کي پر سياست باندي ډيري خبري کېږي. اکثره محصلين به رايه ورکړي، خو حامد کرزي ته به رايه ور نه کړي، ځکه عام درک دا دی چي هغه د ځوانانو لپاره هيڅ ندي کړي.)

ټايم مجله ليکي د افغانستان د نفوس ۷۰ فيصده تر ديرشو کالو کښته عمرونه لري. د راجستر سويو خلکو له جملي څخه چي جمعا ۱۷ ميلونه کېږي قريب ۱۰ ميلونه ځوانان دي. افغاني ځوانان د انټرنيټ او ټيلويزيون سره اشنايي لري، او پاک او سالم حکومت غواړي. د حامد کرزي حکومت سراسر فاسد، لټ، اومطلق بيخبره دی. اکثره افغان ځوانان باور لري چي حامد کرزی د جنګسالارانو ، ډاکوګانو، او فيشني غلو انتخاب دی، نه د بااستعداده، تحصيل يافته، او منورو ځوانانو.

د افغانستان په اوسني انتخاباتو کي ګڼ شمېر کانديدانو برخه اخيستي ده. د عامه افکارو وروستۍ رسمي سروې ښيي چي حامد کرزی تر خپلو رقيبانو مخته دی، خو بې طرفه سروې ګاني ښيي چي ښاغلي اشرف غني په چټکي سره مخته ځي. د ښاغلي پوپل د ډلي انتخاب اشرف غني دی، ځکه د هغه په سياسي پلټفورم کي ښايسته سالاري، لياقت، د نويو کارونو خلقول، دمکتوبو او پوهنتونونو عصري کول، او افغانستان د يويشتمي پېړۍ په روان کاروان کي ور ګډول شامل دي. محمد شفيق پوپل وايي،( ډېری کانديدان د ځوانان په باب خبري کوي، خو يوازي اشرف غني د هغوی لپاره پروګرام او طرح لري.)

د ټايم مجله ليکي طالبان قريب ۷۰ فيصده خاوره کي دايمي حضور لري. سږکال جنګونه د بل هر کال په پرتله زيات او مرګاني سوي دي. يوازي د جولای په مياشت کي ۷۶ ايتلافی عسکر د مرګ کوله سول. همدا وجه ده چي راتلونکي انتخابات ډېر زيات اهميت لري.

عصمت الله کوهسار ۲۴ کلن هزاره ځوان دی او د هند په بنګلور کي يې تحصيل کړی دی. هغه روانه او سليسه انګليسی وايي. هغه وايي،( کله چي وطن ته راستون سوم، يوه وزارت ته مي د کار لپاره غوښتنليک ډک کړ. خو هغه مامور چي زما سره مرکه کوله، زه تر هغه ډېر پوهېدم. او ما بايد د هغه تر لاس لاندي کار کړی وای. خو هغه زه رد کړم. ) همدا کانه په نورو با استعداده ځوانانو هم سوېده. هر کال په زرهاوو ځوانان له پوهنتونونو څخه


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املایی و انشایی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.

راوځي، خو کار نه سي میندلای، ځکه په حکومت کي عالي رتبه مامورین مسلکي خلک ندی، هغوي له تحصیل یافته ځوانانو څخه ډار او کرکه لري. همدا سبب دی چي زیاتره ځوانان له ملکه وځي. د اپریل په میاشت کي ۶۲ افغان ځوانان په کانتینرو کي مړه سول. هغوی غوښتل چي ایران ته د مزدوری او خواری لپاره ولاړ سي.

د ټایم مجله لیکي په افغانستان کي د طالبانو عام تعریف (بېکاره ځوانان ) دي. د ۱۹۹۰ په کلونو کي، طالبانو هغه وخت زور واخیست چي دمجاهدینو حکومت په دروان کي مطلقه انارشی حاکمه وه. نن سبا، افغان ځوانان فکر کوي چي اوسنی حکومت د دوی غوښتنو ته هیڅ توجه نه کوي. ښاغلی کوهسار وایي، (کله چي تاسو په عادي ژوند کي هیڅ ونلری، تاسو مجبور یاست چي بل ځای پسي وګورئ.)

ددغي ادعا ښه مثال ۲۱ کلن شفیق شاه دی. هغه غوښتل چي خپل موټر بم وچاودی، خو بم ونه چاود، او هغه ونیول سو. شفیق شاه اوس د پلچرخي په محبس کي دی. مګر وروسته له څو میاشتو څخه کوټه کلپه سو، ځکه هغه دننه په محبس کي نور ځوانان دطالبانو لپاره جذبول. هغه زیرک، هوښیار ، او د اوسنی حکومت رنګولو ته متعهد دی. هغه وایي که څه هم اوسنی حکومت اسلامی ندی، خو قهر او مخالفت یي د عدالت څرګند نه شته والی راپارولی دی. هغه وایي، (افغانستان یوه داسی ټولنه نده چي په زیره خلک پر ماشومانو باندي جنسی تیری کوی، خو د حامد کرزي له بدشامته ازاد او خوشحاله ګرځي،او خپلي چرچي او مېلي کوي. د طالبانو په دوران کي، کله چي به غل ونیول سو، هغه وژل کېده.)

دغه راز، د نیویارک ټایمز اخبار د اګست پر ۱۴ مه لیکي اشرف غني د جمهوري ریاست انتخاباتو ته شکل او جهت ورکوي. هغه د تیلویزیون، انترنیټ،داوطلب محلصینو، او قومي او عنعنوي مشرانو په مټ غواړي چي ځوانان، ښځي، او د هېواد د بېشماره بېکارانو او غریبانو لښکري منظمی کړی. که څه هم په ګرده هېواد کي د اشرف غني د ملاتړ معلومول ګران کار دی، خو هغه پر اساسي مسایلو باندي خبري او بحث کوي. هغه افغانان فکر او سوچ ته رابلي.

نیویارک ټایمز لیکي د مناظرې څخه را وروسته، د محصلینو په زرهاوو داوطلبان، پروفسوران، استادان، او ملی تجار د هغه کمپ ته داخل سویدي. هغه په څو ژبو خبري کوي. اشرف غني په ۲۰۰۴ کي د حامد کرزي له بدمدیریت، رشوت، او خویشخوری له وجي له حکومت څخه جلا سو. نن سبا،اشرف غني د حامد کرزي تر ټولو نورو مخالفانو وتلی او مخکښ نقاد او مخالف دی. هغه څو ځله دحامد کرزي سره د ګډ کار روغه جوړه دره کړې ده، او دهغه حکومت یي د افغانستان د بدمرغیو اصلي عامل بللی دی.

هغه غواړي چي په ا فغانستان کي د ښځو لپاره ځانګړي پوهنتونونو جوړ کړي څو افغاني مېرمني په ارام خاطر خپلو زده کړو ته دوام ورکړي، ځکه د ډېرو محصلینو لپاره په پوهنتونونو کي ځای نسته. اشرف غني د یو میلون نویو کارونو د خلقولو او یو میلون نویو کورونو د جوړولو ژمنه کوي. هغه وایي د حامد کرزي ټوله کابینه باید د پلچرخي په زندان کي وي. هغه غواړي چي په بګرام کي د امریکا محبس په دریو کالو کي وتړلي. هغه د افغانانو د وینو د تویېدو بندول غواړي.

اشرف غني وایي پدې وروستیو ۱۸ میاشتو کي یي له یو لکو افغانانو سره کتلي دي. هغه زیاتوي، (دا زما په ژوند کي تر ټولو لوی سمینار وو، او زه پکي یوازنی شاګرد وم. زه له خپلو خلکو سره اورګانیک تړاو لرم، ځکه زه هغوی ته غوږ نیسم.)

ښاغلي اشرف غني وایي، (په شمال کي پښتانه پر خپلو حالاتو باندی غور کوي، او زه ګومان کوم چي هغوی به دا ځل کرزی خوشي کوي.) هغه وایي د انتخاباتو د رارسېدو سره سم به زیات خلک دده کمپ ته ور واوړي.

په همدې لړ کي، د واشنګټن پوسټ ورځپانه د اګسټ پر ۱۵ مه لیکي اشرف غني د افغانستان په کاندیدانو کي د اداري فساد او بدو د مخنیوی لپاره پراخ او جامع پلان لري. هغه وایي د حامد کرزي په حکومت کي رشوت او فساد لکه ناسور ټوله جامعه تباه کوي. اشرف غني وایي که چیری انتخاب سي، هغه به له ۳۰۰۰ مامورینو څخه وغواړی چي خپله شتمني افشا اوثبت کړي. هغه به له عامو خلکو څخه د حکومتی مامورینو د کار او فعالیت په اړه پوښتنی وکړي.


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید
maqalat@afghan-german.de

هغه غواړي چي په پنځو کالو کي ۵۰ فيصده حکومتي کارونه هغو ځوانانو ته وسپارل سي چي تر ديرشو کالو کم عمر لري کوم چي نن ورځ د افغانستان اکثريت تشکيلوي.  هغه غواړي چي په حکومت کي د خويشخورۍ او قوم پالني مخه ونيسي.

د واشنګټن پوسټ اخبار ليکي په افغانستان کي  يو امريکايي مامور وايي، (اشرف غني د اوسنيو ستونزو د حلولولپاره  پوره او کامله طرحه لري، خو د عامه افغانانو په مينځ کي يې کمپين کمزوری دی.)  اشرف غني دا ادعا ردوي.  هغه وايي، (غرب يوازي زما هغه اړخ ويني چي دوی ورسره اشنا دي.  زه له هغوی سره په ا نګليسي ژبه خبري کوم، خو که چيري په پښتو خبری ور سره کړم، هغوی په ما نه پوهيږي.  مګر کله چي زه په پښتو او دري خبري کوم، افغانان په ما پوهيږي او ما خپل ګڼي.)

اشرف غني د عامه افکارو وروستۍ سروې ردوي.  هغه وايي ټولي سروې ګاني تر مناظرو  پخوا اخيستل سوي دي.  د هغه دواړه رقيبان  -- حامد کرزی او عبدالله— له تيلويزيوني مناظرې ځخه وتيښتېدل.  هغه وايي دواړه کانديدان د انتخاباتي اعلاناتو تر شا پټ سوي دي.  هغه وايي د هر ولايت لپاره دقيق او کامل پلان لري. هغه زياتوي، (زما لپاره حکومت د پيسو د پيداکولو منبع نده، بلکي د خدمت او کار ځای دی.)



افغان جرمن آنلاين شما را صميمانه به همکاری دعوت می نمايد. لطفاً  به آدرس ذيل با ما تماس بگيريد
maqalat@afghan-german.de